مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

یونس نګاه

۲۰۲۶ / ۰۸ / ۱۵

# بېکلتوره طالبان

د طالبانو د امارت د پنځه کلنی په جشن کې، د دوی د تجمعاتو، موټرسيکل ځغلولو، موټر ځغلولو او د بوشکو د ننداري ويډيوګاني خپرې شوې دي. په دې ويډيوګانو کې د ښکلا، ارامی، تواضع، خوشحالی، همکاری، نظم او پاکوالي يا د کومې پهٔزړه پورې قاعده هېڅ نښه نهٔليدل کېږي. د طالبانو ملاتړي هم د دې صحنو په ليدلو کوم کلتوري، هنري او انساني خوند نهٔاخلي.

## ولې؟

ځکه طالبان د کلتور مخالف دي. هر هغه څه چې د کلتور، هنر او د بشري مثبت سنتونو نښي ولري، طالبان ورته پردي او بد وايي. دوی د پښتنو له قبايلي او کليوالي کلتوره هم پرې شوي دي. ښکلي اتڼ او کليوالو ترانو ته يې شا اړولې. که يو څو تنه په کوم کونج کې ځرخېږي، د هغه ملا په شان ناپوه او شرمېدلي ښکاري چې دهول يې په غاړه کې اچولی وي، نه د کوم هنرمند په شان. دهول، طبله، هارمونيه او رباب چې له پخوا زمانو به يې په ښار او کلي کې د پښتو او فارسي ترانو ملتيا کوله او د افغانستان ولسي او رسمي ترانو ته به يې هويت ورکاوه، بند کړي دي.

نجونې او ښځې چې د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې له پخوانيو زمانو راهيسې په خوښيو او جشنونو کې د دوی شتون کلتور ته رنګ او مانا ورکوله، له اجتماعه اېستلي دي. د جامو تنوع او رنګارنګي چې د افغانستان د هويت يوه برخه وه، له منځه وړې ده. ازادي چې به خلکو ته ان د سختئ او وږې تږې په وخت کې هم نوې ساه ورکوله، منعه کړې ده. همکاري او د تجمع حق چې د جشنونو اصل دی، غېراسلامي بولي.

وېرېدلي خلک چې له ډېرو کلتوري ارزښتونو بې برخې شوي، او هغه جګړهماران چې له کلتوري پلوه ذاتی لغړ دي، د «امارت د جشن» په ورځ چې سړکونو ته راوځي، ډېر بدوي او بېوسه ښکاري. بېکلتوره او بېهويته په نظر راځي. د يوه هموطن په توګه د هغو صحنو په ليدلو د سړي زړه خپه کېږي. د يوه انسان په توګه، د دې بېکلتورئ او ټولنيزې بېوسئ په ليدلو انسان ته پرې زړه سوځي .



آرشیف: نو یسنده در پورتال افغان جرمن آنلاین



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ